بسم الله الرحمن الرحيم

## له حدیث شریف سره

## تکبر مې څادر او لویي مې جامه ده

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقُولُ اللَّهُ سُبْحَانَهُ الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي مَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا أَلْقَيْتُهُ فِي جَهَنَّمَ" (رواه ابن ماجه)**

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: « الله سبحانه و تعالی فرمایي چې تکبر زما څادر او لویي مې جامه ده؛ څوک چې له دغو (تکبر او لویي) څخه په یوه کې له ما سره شریک شي، نو دوزخ ته یې غورځوم.»

د سنن ابو داوود په شرحه، عون المعبود (كِتَاب اللِّبَاسِ) کې د دغه حدیث په شرحه کې راغلي: «خطابي ویلي: د دې خبرې معنی دا ده چې تکبر او لویي د الله سبحانه و تعالی لپاره ځانګړي صفتونه دي چې هېڅوک ورسره نه شي پکې شریکېدلی او مخلوق ته نه ښایي چې دغه دوه صفتونه خپل کړي، ځکه د مخلوق صفت تواضع او سر ټیټول دي.»

په دې حدیث کې مخلوق له کبر، غرور او ځان لوړ بللو څخه منع شوی، ځکه تکبر او لویي یوازې په الله سبحانه و تعالی پورې ځانګړي صفتونه دي؛ روا نه ده چې څوک ځان پکې شریک کړي او مخلوق ته نه ښایي چې په دغو صفتونو ځان متصف کړي.

نن ورځ ګورو چې روبیضه حکام تکبر کوي او ځان لوی ښیي؛ له خلکو غواړي چې د دوی تعظیم، ستاینه او چاپلوسي وکړي او دوی ته سر ټیټ کړي، چې دوی په دې کار سره په ربوبیت او ألوهیت کې ځانونه شریکوي. الله تعالی به دوی د دې کار په بدل کې سخت خوار او ذلیل کړي او د خلکو تر پښو به یې لاندې کړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«يحشر المتكبرون يوم القيامة أمثال الذر في صور الرجال، يغشاهم الذل من كل مكان، فيساقون إلى سجن في جهنم يسمى بولس، تعلوهم نار الأنيار، يسقون من عصارة أهل النار طينة الخبال» (رواه الترمذي)**

*ژباړه: متکبران به د قیامت په ورځ په داسې ډول حشر شي چې ځېرې به یې د انسانانو وي، خو په تن به د کوچنیو سرو مېږیانو په څېر وي، له هرې خوا به ذلت رانغښتي وي او په جهنم کې به یو زندان ته ـ چې بولس نومېږي ـ کش کول کېږي، چارچاپېر به یې اور وي او څښاک به یې د دوزخیانو د زخمونو مرداري وینې او زوې وي.*

**لیکنه: عفراء تراب**

**ژباړه: مصطفی ځیرک**